**د خوست،**

**تریزي او علیشیر ولسوالۍ ته یوه لنډه کتنه**



**موقعیت :**

د تریزیو او علیشیرو ولسوالي د خوست ولایت مرکز څخه د 28 کیلو متره په فاصله په شمال ختیځ کې د ډېیورنډ فرضي کرښې سره نښلیدلې ولسوالي ده .دغه ولسوالي په ختیځه برخه کې د پاکستان سره ګډه 44 کیلومتره کرښه لري .شمال کې یې د باک ولسوالي، لویدیځ ته یې د صبریو یعقوبیو ولسوالي او جنوب ته یې د مرکز اړوند لکنو ایوب خیل پراته دي.

**مساحت او نفوس یې:**

مساحت یې 379 کیلومتره مربع دی او نفوس یې د ولسوالۍ د رسمي ادارو په وینا دا مهال 230000ته رسیږي .

131 رسمي او 63 غیر رسمي فرعي کلي لري، 37 پکې د ګاونډي هیواد سره په کرښه پراته دي.

د دغه ولسوالۍ مېشتې قبیلې عبارت دي له;

تریزي، علیشیر، لنډر، صادک، توري اوبه، ځدراڼ، منګل، کوچیان )غلجې(، نیازي، ذکرخېل او صبري دي چې د تریزیو نه علاوه نورې ټولې قبیلې ورته راکډه شوي دي.

د ولسوالۍ اړونده قبیلې په څلورو لویو دروازو (دړو) ویشل شوي دي چې یوه دړه یې تریزي، بله یې توري اوبه جونو غونډی، دربیمه یې علیشیر او څلورمه هغه یې هارون خېل لنډر، صادک تر ذاکوخېلو پورې دي .هره دروازه یې بیا په ټالو ویشل شوې ده چې ځانته قبیلوي جوړښت لري.

**دیني، فرهنګي او تاریخي حیثیت یې:**

دغه ولسوالي 328 جوماتونه لري، چې 315 یې عادي او 13 یې لوی جامع جوماتونه دي.

تریزي له آره کرلاڼي پښتانه دي. د پښتنو قبیلو مېنې، شجرې او نومیالي کتاب چې د ښاغلي شیرین خان ناصر له خوا راټول شوی دی په وینا چې تریزي د تنیو په کورنۍ کې د شتک بن ککی بن کرلاڼي د اولې ښځې له اولادې څخه دي.د دغه کتاب په حواله چیرته چې دغو قومونو اړولي دي، هماغه سیمه يې په خپل نوم نومولې ده.

د پښتنو قبیلو، مېنې، شجرې او نومیالي کتاب په حواله علي شیر د اڅکزیو له کورنۍ څخه د بارکزیو له ښاخ ځینې یې ترین بن شرخبون ته رسیږي.

ویل کېږي چې د امیر عبدالرحمن خان د پاچاهۍ پر مهال په زور له خپلو مېنو وویستل شول او د هیواد بیلا بیلو سیمو ته وکوچېدل چې یوې برخې یې دلته د خوست ولایت اړوند تریزیو ولسوالۍ کې هم اړولي دي  او اوس دغه ولسوالي د تریزیو له نوم سره جوخت د علیشیرو په نوم هم یادېږي.

د بریتانوي هند پر مهال د دغه ولسوالۍ په ځینو غرو او راغو کې فرنګیان اوسیدلي دي .د دغه ولسوالۍ یوه سیمه یا ځای اوس هم د **فرنګي ډاګ (پېرنګای ډوګ)** په نوم یادېږي .د فرنګي ډاګ سره په څنګ کې یوه ټوټه ځمکه د آس پالې په نوم هم شته ده .

ویل کېږي چې دلته به فرنګیانو خپل اسونه تړل او د اسونو طبیله یې وه.

د پورته خبرو د تائيد په اړه يو اسطوروي داستان هم د سيمه والو له خوا خوله په خوله کېږي . په هغه داستان کې ويل کېږي چې دلته يوه زړوره او ميړنۍ ميرمنه اوسيدله، دغې باتورې او اتلې ميرمنې فرنگيانو ته ويلې ول چې زمونږ سيمه بايد ترک کړي، هر څومره ژر چې کېږي سيمه دې خوشي کړي .فرنگيان پرې غوږ نه گروي، هماغه ده چې دغه اتله ميرمن ورپسې ورځي، لومړۍ يې د اسونو طبيلې ته اور ورته کوي، بيا يې اسونو پسې غټ کوتک يا دبی را اخلي، اسونه شور جوړوي او بالاخره فرنگيانو باندې ماتې گډيږي او له سيمې نه په تېښته وځي.

د دغه ميرمنې د دقيق نوم او کورنۍ پته چا ته نشته .ددغه داستان څو کړۍ داسې دي:

راغلو فرنگی کافر

ور يې کړ دبی کافر

ښځه پهلوانه وه

خوړه کې روانه وه

وار يې په آسونو کړ

شور يې جوړ په غرونو کړ

مات شو فرنگی لښکر

بر شو افغانی لښکر

ښځه شوه رهبر د وخت

جوړ يې کړ خبر د وخت













......

**پورته عکسونو کې د فرنګي ډاګ ساحه لیدل کېږي.**

دغه ولسوالي یوه غرنۍ ولسوالي ده، تقریبا اویا سلنه خاوره یې غرونو نیولې ده .هر غر او دښته یې خپل نوم لري .په غرونو باندې یې ټول نومونه د بریتانوي هند د نارینه او ښځینه فوځیانو نومونه دي .داسې ویل کېږي چې دلته د جګړه ایزو اهدافو د مشخص کیدو لپاره نومونه غوره شوي دي.

د غرونو او غونډیو ځینې نومونه یې :خوشبويي غر، سیندخورد غر، داوۍ غر، بمبولی غر، گورگوری غر چې ویل کېږي دلته یو صحابي، معدي کرب رض هم دلته د غره په سر کې ښخ دی .تربل، شاویه، گنگو غونډۍ او نور.....

تاریخي سیمو کې یې تر ټولو مشهوره سیمه د **جونو غونډۍ** په نوم سیمه ده چې د دغه ولسوالۍ په شمال لویدیځ کې د صبریو ولسوالۍ سره نږدې پراته ده.

د مرحوم پوهاند عبدالشکور رشاد په وینا چې دلته به د کال په ځانگړو ورځو لکه نوروز، د ازادۍ ورځ او اخترونو کې د دغه محلې جلکۍ راټولیدې، دریا به یې وهله او د شمعو رڼا ته به ټوله شپه گډیدلې، روسته بیا دغه دود د سیمې نارینه ؤ ته ورپاتې شو .زما د مرحوم نیکه په وینا چې ویل به یې مونږ به د" ننداري "په نوم د خوشالۍ جشن دلته جوړاوه، څو ورځې به یې دوام کاوه .له کوره به چې وتلو، نو چا به د غوا غوړیو او چا به د پسه د لم په غوړیو څڼې غوړې کړلې .اتڼې به مو کولې، سندرې به مو ویلې او شورۍ به مو کولې.

بله هغه یې د ***بومبولی*** په نوم غر دی او ویل کېږي چې دلته یو زیارت دی د بمبولی په نوم، قدامت یې د تابعینو او حتی صحابه‌وو دور ته رسیږي .

د بمبولی یادونه په کلیوالي سندرو کې هغه مهال ډیره کېږي، کله چې ناوې د پلار له کوره راوړي، نو د خاوند د کور جلکۍ دا سندره ورته وایي:

***موړواند دې بومبولی !!!! چتې یوووور دې ارځینه***

***ارتیټ که دووړه لوسه !!!! تر سبووو موسپینبینه***

***موړوند دې بومبولی!!!!***

*که سرې د دغه سندرې ظاهري جوړښت ته نظر وکړي، داسې ښکاري چې دا سندره همزولې جلکۍ بلې جلکۍ ته هغه مهال ویلي ده چې د جلکۍ د ژوند ملگری مسافر وي، ملگرې / میرمن یې لاسونه په دعا ورپسې ولاړه وي او دواړه مړوندونه یې د دعا په دود پورته اسمان ته*

*نیولې وي .اوس یې ، ملګری /خاوند را روان وي خپل وطن ته، نو د همزولو جلکیو له خوا یې ورته ویل کېږي چې نور دې انتظار ختم کړه او لکه د بمبولی غر غوندې دنګه غاړه او جګ مړوندونه راټیټ کړه، ته خبره یې که نه، یار دې را روان دی او کیدای تر سبا ماسپښینه را ورسیږي .*












**دغه عکسونو کې د بمبولی نومې غر ښکاري.**

*په دې سیمه کې یوه چینه ده، نوم یې د" زانې چینگۍ "ده، ویل کېږي چې دلته به د زانې په نوم یو هندو په څادر کې وره سودا راوړله، مرۍ، گونگړي او لالونه به یې خرڅول .دلته یې ځمکه وکېندله، اوبه ترې روانې شوې .اوس ورته خلک د زانې چینگۍ نوم اخلي .*

*خوست، پکتیا، غزني، قندهار سربیره یې ننګرهار کې هم د شرعي قبالې ځمکې شته دي خو اوس یې ټولو ځمکو باندې غاصبینو اړولي دي*

## بلاوټ باغ

د دغه ولسوالۍ په مرکزي برخه کې د بلاوټ په نوم تاریخي باغ دی .دغه باغ د پخواني نایب الحکومه فیض محمد خان تر نظارت لاندې د سیمه والو له خوا د بیګار په ډول ودان شوی دی.

دغه باغ چې ټوله ساحه یې د اټکل له مخې ٦٠ جریبه ځمکې ته رسیږي، د زردالو، الوچه، ناجو، شفتالو، الوکاټ، بادام او نارنجو ونو باندې آباد ؤ، خو اوس یې د ټولې ځمکې څخه ایله ١٦ جریبه ځمکه پاتې ده، نور ټوله غصب شوي ده.

د میوه لرونکیو ونو څخه یې اوس فقط د زردالو، نارنج او یو څو په ګوته شمار د الوکاټو ونې پاتې دي، نورې ټولې یې غوڅې شوي دي.

د سیمې ځینې پاخه عمر لرونکیو مشرانو وینا ده چې مونږ به دغه باغ ته ډبرې او خاورې په خرو باندې له لیرو غرونو څخه راوړلې او بیا به مو دلته لګولې .دوی زیاتوي چې د دغه باغ د ابادولو د کار په دوران کې به خپله فیض محمد خان له مونږ سره سم لګیا وو او کار به یې کاوه.

بلاوټ باغ د خوست ولایت له مشهورو باغونو لکه میلمه کوټ باغ، فارم باغ، بادام باغ او صحرا باغ سره هم مهاله ودان شوی دی .

د ځايي سپین ږیرو وینا ده چې د بلاوټ باغ به له دریو تر څلورو باغوانان لرل، د میوو پاخیدو په موسم کې به غټ بار وړونکې موټرې ورته راتلې، میوې به یې د ټول وطن ګوټ ګوټ ته ورسیدې .د باغ له محصولاتو په لاس راغلي پیسې به د دولت ملي خزانې ته لېږدول کیدې.

دغه باغ د زراعتي ارزښت ترڅنګ په اوس وخت کې د ټول خوست د پېژندنې هویت جوړوي او تاریخي حیثیت یې لري؛ خو اوس که د دغه باغ وضعیت ووینې، په زړه کې به دې لیکې تیرې شي او سوړ اسویلی به وکړې .

**پوهنیز څرنګوالی یې:**

د تریزیو علیشیرو ولسوالۍ د پوهنې امریت د مسؤلینو په وینا اوس مهال دغه ولسوالۍ کې 31 ښوونځي فعال دي 26 .پکې دولتي دي،7 پکې خصوصي دي.

د زده کوونکو شمیر یې 15048 ته رسیږي، د دغه جملې څخه یې 12000 هلکان او نږدې 3000 یې جلکۍ دي چې د 264 ښوونکو له خوا ورته تدریس کیږي.

د 8 لیسو له مینځه یوه هم د جلکیو پکې نشته، خو 4 متوسطې د جلکیو لپاره شته دي چې یوازې تر شپږم ټولګي پورې زده کوونکې پکې د درس اجازه لري او بس.

۴۲ دیني زده کړو مدرسې لري، چې ۲۷ یې رسمي او ۱۵ یې غیر رسمي دي.

۲ پکې د جلکیو لپاره هم شته دي.

**ورځنی عاید او اقتصاد یې:**

د تریزیو علیشیرو ولسوالۍ د اوسیدونکو د کورنیو ورځنی عاید په اوس وخت کې په بهر وطنونو کې په ځانګړي توګه د عربي هیوادونو د مسافرو په خوارۍ او مزدورۍ ولاړ دی .

د ځمکې پیداوار یې غنم، جوار، شولې، مۍ، سویابین اوربشې، ګنی، هندوانه، کوسې یا ټېنډې دي.

د دغه ولسوالۍ په قدمو سیمه کې د" تور کانۍ "په نوم د اوبو یو احتمالي ډېم امکانات هم شته او د ځینو موسساتو له خوا د ترسره شویو سروې ګانو له مخې ویل کېږي چې دلته د اوبو برق دومره امکانات شته دي چې نیم خوست ته برښنا ورکولی شي .دغه راز دغه ولسوالۍ د سرحدي کرښې سره نږدې وچه او شاړه ځمکه هم ابي ته اړولی شي.

**روغتیایي چوپړونه**

دغه ولسوالۍ کې ۱۰ روغتیایي مرکزونه فعال دي چې یو یې بټۍ تانه کې، بل یې ببرک تانه کې، علیشیرو کې، تریزیو کې، هارون خېلو کې، زمانخېلو کې، کوټکیو کې، توري اوبه، قدام او لنډرو کې د څه دپاسه سل تنه روغتیایي پرسونل په ذریعه خدمات ترسره کوي.

د روغتیا د برخې څخه د مور او ماشوم، دغه راز د لومړني طبي خدماتو اسانتیاوې پکې ترسره کېږي.

**تریزیو علیشیرو ولسوالۍ کې د خیرښیګڼې ټولنیز بنسټونه**

**۱ - د تریزیو خیریه بنسټ**

د دغه بنسټ د ځینو غړو په وینا د بنسټ عمومي موخه په خپله سیمه کې د اړمنو لاسنیوی او مرسته ده .دوی زیاتوي چې بنسټ یې په ځانګړي ډول د اړمنو لپاره د دوی ورځیا ته په کتو

کاري فرصت رامنځ ته کوي .هغوی چې د کورنیو سرلارې یې وفات یا نه وي، نو د پاتې ورو لپاره یې د لومړنیو مرستو په لړ کې خوراکي او غیر خوراکي توکي برابریږي او په اوږدمهال کې د دوی لپاره د عاید یوه سرچینه هغه که د ګاډیوانی غوندې وي، یا د لارې پر سر وړه سوداګري وي، اماده کوي.

د بنسټ بله موخه په سیمه کې د ورانو، ویجاړو او نویو پلچکونو جوړیدل دي چې د اړتیا په صورت کې امکاناتو ته په کتو یې کارونه ژر ترسره کیږي.

دغه بنسټ په سیمه کې د ستونزو، بدیو او شخړو په هواري کې هم برخه اخلي.

یاده دې وي چې له دغه بنسټ سره مالي مرسته د همدغه سیمې هغه مسافر وروڼه چې په عربي هیوادونو کې په خواری او مزدوری بوخت دي، ترسره کیږي.

**۲ - د تریزیو او علیشیرو ځوانانو ګروپ**

د تریزیو او علیشیرو ولسوالي په ذکر شوي نوم یو بل خیریه بنسټ هم لري چې ټول غړي یې د همدغه ولسوالۍ اوسیدونکي دي او وخت ناوخت په بیلا بیلو مذهبي او کلتوري ورځو د خپلې سیمې د وطنوالو په خدمت کې اخته دي او د خوراکي او غیر خوراکي توکو مرستې په اړمنو خلکو باندې ویشي.

دغه بنسټ همدا سږني کال ۱٤۰٤ روژې میاشت کې تازه رامنځ ته شوی دی .د دغه بنسټ مسؤلین وایي چې غواړي د بنسټ خدمتونه د ټولې ولسوالۍ په کچه وغځوي او د هر اړمن کس مرستې ته د خپل توان په اندازه ځانونه ورسوي .

**سوداګریزه میله**

د تریزیو او علیشیرو ولسوالۍ اړوند د علیشیرو خوړ د پل تر څنګ هره چهارشنبه یوه وړه سوداګریزه میله جوړیږي.

دغه میله کې د ولسوالۍ اړوند نږدې کلیوالو له خوا د څارویو نه نیولي تر چرګانو، خوراکي توکو، فرنیچر، زینتي توکي، لباسونه او د موټرو اخیستل خرڅول ترسره کېږي.

د دغه سوداګریزې میلې د مدیریت کوونکو په وینا چې دغه میلې ته د ولسوالۍ سربېره د خوست ولایت له نورو سیمو لکه مرکز متون ,لکن، خالبیسات، باک، ځاځي میدان څخه سوداګر راځي او د خپلې اړتیا وړ توکي پیري .د سیمې اوسیدونکې له دغه سوداګریزې میلې خوښي څرګندوي او زیاتوي چې د ډېرو کورنیو د ژوند ګزاره پکې روانه ده.

## مشهورې علمي او اکاډمیکي څیرې یې

### ۱ - استاد ظابط خان نایبزی د ماشومانو د داخله ناروغیو اسوشیټ پروفیسور

پوهندوی دوکتور ظابط خان نایبزی د حاجي نایب خان زوی د شیخ زاید پوهنتون طب پوهنځي استاد.

کلی: تریزي کړکي کلی

خپلې لومړنۍ او منځنۍ زده کړې یې د هجرت پر مهال پاکستان کې ترسره کړي دي .لوړې زده کړې یې د کابل طبي پوهنتون کې سرته ورسولې او د نورو لوړو زده کړو لپاره د پاکستان پلازمېنه اسلام اباد ته ولاړ او هلته یې د ذوالفقار علي بوټو میډیکل یونیورسټي پمز کې سرته ورسولې، اوس مهال د تریزیو بازار کې د خیبر په نوم کلینیک کې د وطنوالو په خدمت کې اخته دی.

### ۲- ډاکټر صیب محمد انور تریزی

رنځورمل ډاکټر محمد انور تریزی د سلمانزي زوی د تریزیو حاجیانو کلي اوسیدونکی دی .

لومړنۍ زده کړې يې د هجرت پر مهال کرم ایجنسي ـ ۳ نمبر ماډل سکول کې ترسره کړې دي، لیسه دوره یې د پېښور تقوی لیسه کې سرته ورسوله او د لوړو زده کړو په پار د کابل طبي پوهنتون ته بریالی شو.

تخصص يې له کابل ابن سینا عاجل څخه په عمومي داخله برخه کې واخېست او روسته د خوست ملکي تخصصي روغتون کې د استاد او آمر په صفت وټاکل شو .

ښاغلی متخصص انور تریزی دا مهال خوست ښار کې کلینیک لري او د عمومي داخله برخه کې د ګرانو وطنوالو په خدمت کې دی.

**۳- محترم نجیب الله الوخېل**

نجیب الله الوخېل د الحاج عبدالخلیل زوی د لعل محمد لمسی ـ د ۱۳۵۴ لمریز کال د ثور په ۸ مه د خوست ولایت د تریزیو ولسوالۍ د کابل کلي په یوې متدینې او روڼ اندې کورنۍ کې دنیا ته سترګې غړولې دي.

ماشومتوب او د ژوند تنکی ځلمیتوب يې له خپلې کورنۍ سره د پکتیا ولایت په مرکز ګردیز کې تیر شوی او په ۱۳۶۹ لمریز کال کې د عبدالحی ګردیزي لیسې څخه فارغ شوی دی.

له ماشومتوب يې مقاله لیکنې، فرهنګي او رسنیزو فعالیتونو سره مینه درلوده، له ۹ ټولګي يې د ګردیز له سیمه ییزې راډیو مقالې لوستې او د ماشومانو دنیا په نوم خپرونه يې چمتو کوله، تر څنګ يې د وړانګې اونیزې سره هم قلمي اړیکه ساتلې وه.

په شپاړس کلنۍ کې د کانکور ازموینې له لارې د کابل پوهنتون د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي ته بریالی شو، خو د پوهنتون په انګړ کې د یو توغندي د لګیدنې له کبله یو شمېر نورو محصلانو سره یو ځای ټپي شو، کابل علي اباد په تدریسي ـ روغتون او د شهید سردار محمد داود په پوځي روغتون کې يې درملنې شاوخوا یو کال وخت ونیو.

نوموړي بیا وروسته په ۱۳۸۹ لمریز کال کې د پوهنتون پاتې برخه شیخ زاید پوهنتون کې بشپړه کړه.

تر اوږدې درملنې وروسته  شاوخوا لس کاله یې د لاس مزدوري او ازاد کاروبار کاوه او د دې په خوا کې یې د ژوند یوه برخه دعوت تبلیغ ته ځانګړې کړې وه.

نجیب الله الوخېل د ۱۳۸۲ لمریز کال په ثور میاشت کې د مزل اوونیزې د خبریال او مسوول مدیر او وروسته یې شپږ کاله د سولې پیغام راډیو د مرستیال په توګه دنده ترسره کړه.

نجیب الله الوخېل په ۱۳۸۹ کال کې د خوست ټولنیز مرکز)میډیوتیک (ولایتي مسوول په توګه وټاکل شو، چې په دې ځای کې یې په خپله څلور کلنه دنده کې خوستیو ځوانانو لپاره د ژبو، کمپیوټر، انټرنیټ او ټکنالوژۍ د زده کړو په برخه کې پراخ امکانات برابر او مدیریت کړل.

نوموړي د رسنیو اړوند درې واړه کتابګوټي رسنۍ او سیاست؛ رسنۍ او ټاکنې؛ رسنۍ او د بیان ازادي هم پښتو ته ژباړلي چې د ٦ زره په تیراژ کې چاپ شول او د خوست په ګډون کابل، ننګرهار، بلخ، کندز او کندهار کې وویشل شول .ښاغلي الوخېل په بیلابیلو موضوعاتو سلګونه مقالې لیکلې، چې د هېواد په یو شمېر نشریو کې خپرې شوي دي.

نجیب الله الوخېل له ۲۰۱۲ ز کال بیا تر ۲۰۱۵ ز کال تر پیله د خوست پوهنې ریاست کې د نړیوال بانک لخوا په تخنیکي او تدریسي برخو کې د سلاکار په توګه دنده ترسره کوله.

په دې موده کې نوموړي د ملي احساس ورځپاڼې بنسټ کېښود او د لومړي ځل لپاره یې په لږه موده کې د ورځپاڼې د متواترې خپریدا ظرفیت وروزه او په نسبتاً معیارې بڼه او ښې محتوا یې یو کال  نشـرات وکړل، وروسته یې د ولایت مقام په لزوم دید مدیریت نوې رهبرۍ ته ولیږدول شو.

د دې تر څنګ نجیب الله الوخېل شاوخوا یوه لسیزه کیږي، چې مشال راډیو سره د جنوب ختیځ زون په کچه خبریال دی او په دې موده کې یې له مشاله په بیلابیلو ټولنیزو، فرهنګي او سیاسي مسایلو سلګونه غږیز او انځوریز راپورونه خپاره شوي دي.

نجیب الله الوخېل اوس هم له یادې رسنۍ سره د خبریالۍ دنده پرمخ وړي او هڅه کوي چې د سویل ختیزو ولایتونو پکتیا، پکتیکا، لوګر او په ځانګړې ډول

د خوست ټول پرمختګونه او د ولسونو رښتیني ستونزې او غوښتنې منعکسې کړي .

نوموړی فکراً د مثبتو پرمختګونو، رغوونکو نظرونو پلوی دی، بې ځایه نیوکې، منفي ګرایي، تریخ او زشت برخورد، د نورو په چارو کې مداخلې او بې نزاکتۍ نه خوښوي.

نجیب الله الوخېل د رسنیزې بوختیا سره، سره په ټولنیز ژوند کې یو ښه ملګری، د ستونزو په وخت کې بې احسانه همکار، پر کشرانو مشفق او د لویانو احترام کوونکی شخص دی.

**۴- حافظ طاهر آمین تعجب**

طاهر آمین تعجب د مولوي ښایسته ګل زوی د تریزیو علیشیرو ولسوالۍ توري اوبه غزا غونډۍ کلي اوسیدونکی دی.

ابتدائیه زده کړې یې له خپل پلاره چې د وخت قاضي ؤ، ویلي دي او د نورو دیني زده کړو لپاره پاکستان ته تللی دی، هلته یې په بیلا بیلو مدرسو کې د قرآن پاک حفظ او تجوید وکړ.

ښاغلی تعجب شاعر، لیکوال او د خوږه غږ څښتن دی چې ډیری وخت غزلې په ترنم کې وایي .شعر یې د هنر په ټولو رنګینیو رنګین او د الهام ښاپیرۍ یې د ښکلاګانو کلیواله ده.

تعجب ته خدای ستر استعداد ورکړی دی، د همدغه وړتیا په برکت یې له ادبیاتو نیولې تر دیني او مذهبي زده کړو پورې هر څه د ازادې مطالعې پر مټ حاصل کړي دي .

په وروستیو کې د ازموینې ملي اداري له خوا د دیني علومو له فارغانو اخیستل شوي ازموینه کې هم بریالی شو او د دیني علومو د ماسټرۍ سند یې ورته منظور کړ.

اوس مهال تعجب په خپل کلي کې د ديني علومو مدرسه کې رسمي ښوونکی دی او په خپله سيمه کې يو خدايي خدمتگار، رضاکار او ټولنيز فعال دی.

طاهر آمين تعجب د ټولنې ناخوالو ته د نثر په ژبه انعکاس ورکوي، ډېری وخت پر ټولنه حاکم رواجونه ننگوي او د ليکنې سبک يې طنزيه بڼه لري چې ډېری وخت پکې خپل ځان باندې طنز جوړوي .موخه يې دا وي چې تر ټولو جدي ستونزو ته د طنز په خوږو کې له خپل ځانه نورو خلکو ته درس ورکړي.

ملگری تعجب ساده، بې تکلفه او کليوالي خويونه لري، د اوسنۍ زمانې له ډيپلوماتيکو چلندونو سره جوړ نه راځي او هر ډول محفل کې خپل عادي کليوالي خويونه کوي.

طاهر آمين تعجب د ملگرو د بنډار حجرې ناستې کې په داسې جرئت غږيږي چې ټوله حجره ورته غوږ غوږ وي او داسې ټوکې ټکالې درته کوي چې په شپو شپو دې ترې زړه نه کېږي.

په لومړي ځل مخامخ کيدو کې به فکر کوې چې که د کلونو کلونو ملگری مې تير شوی دی .

**۵- دوکتور مولا خان زيارمل د شيخ زايد پوهنتون د ښوونې او روزنې پوهنځي استاد**

استاد مولا خان زيارمل د فضل اکبر زوی د تريزيو لېوانو کلي اوسيدونکی دی.

ښاغلي زيارمل ابتدائيه دوره او ليسه دوره د تريزيو شيگۍ ليسه ترسره کړي ده.

لوړې زده کړې يې د شيخ زايد پوهنتون ښوونې او روزنې پوهنځي کې د ليسانس په کچه ترسره کړې.

مولاخان زيارمل بې کچې خواريکښ انسان دی، آن د ليسې دوره کې يې د علمي اثارو په ليکلو وکړ.

استاد مولاخان د ماسټري سند د روسيې بلګورډ نړيوال تحقيقاتي پوهنتون څخه وکړه او ورپسې يې دوکتورا لپاره هم دغه پوهنتون غوره کړ او دا مهال د دويم کال دوکتورا دورې محصل دی.

نباغلي زيارمل د فزيک په برخه کې پنځه علمي اثار وپنځول او دا مهال د هېواد په ګڼ شمېر دولتي او خصوصي پوهنتونونو کې تدريس کېږي.

لس نړيوالې مقالې يې هم خپرې شوي دي او په دريو نړيوالو کنفرانسونو يو په روسيه، بل په دوبۍ او درېيم هک په عمان کې ګډون کړی دی .

دندې:

١ -شيخ زايد پوهنتون فزيک څانګې استاد

٢-ابوظبي پوهنتون)جامعة ابوظبی (مډرن فزيک په برخه کې البته اتومي انرژۍ ذخيره کولو مشاور استاد

٣ -روسيې بلګورد پوهنتون کې د ساينسي تحقيقاتو مشاور استاد.

**٦- دوکتور سيف الرحمن ځلاند د شيخ زايد پوهنتون انجينري پوهنځي استاد**

نوم :سيف الرحمن ځلاند

پلار نوم :داود جان

کلی :تريزي کابل کلی

دنده :استاد

ابتدايي زده کړې :شيګۍ عالي ليسه

دولسم فارغ :الفتح ليسه

ليسانس :شيخ زايد پوهنتون – سيول انجينري

ماستري :سيول انجينري – سنټرل سوت پوهنتون، چين

Master's Degree in Civil Engineering from Central South University, China

دوکتورا :سيول انجينري – چارلس سټارټ پوهنتون، اسټراليا

PhD in Civil Engineering from Charles Sturt

University, Australia

**۷- استاد پوهنيار دلاورشاه ځواکمن**

استاد دلاورشاه ځواکمن د الحاج نوربت خان زوی دی چې د خوست ولايت د عليشيرو او تريزيو ولسوالۍ اړوند د تورو اوبو اوسېدونکی دی.

استاد ځواکمن په ۱۳٦۴ هجري لمريز کال کې په کوزه پښتونخوا کرمې ايجنسۍ کې نړۍ ته سترګې غړولي دي.

زده کړې:

استاد دلاورشاه ځواکمن خپلې لومړنۍ او منځنۍ زده کړې په کوزه پښتونخوا کرمې ايجنسۍ بګن کې ترسره کړي او په 2005 ميلادي کال کې د خپلې کورنۍ سره يو ځای خپل پلارني

ټاټوبي خوست ته راغی او د لیسې دوره یې د خوست ولایت د الفتح په عالي او مرکزي لیسه کې پای ته ورسوله.

په ۱۳۸۷ هجري لمریز کال کې یې په عالي درجه د نوموړي لیسې څخه سند تر لاسه کړ.

په ۱۳۸۸ لمریز کال نوموړی د لوړو زده کړو په موخه په شیخ زاید پوهنتون کې د کانکور ازموینه ورکړه چې د یاد پوهنتون د کمپیوټرساینس پوهنځی ته بریالی شو . په ۱۳۹۱ لمریز کال د شیخ زاید پوهنتون د کمپیوټرساینس له پوهنځي څخه په کدر کې فارغ او د لیسانس په کچه دیپلوم یې تر لاسه کړ.

په ۱۳۹۲ لمریز کال نوموړی د شیخ زاید پوهنتون د کمپیوټرساینس په پوهنځي کې د نامزد پوهیالي په حیث مقرر شو .

استاد څواکمن په 2018 میلادي کال کې د نړیوال بانک په مالي مرسته د لوړو زده کړو وزارت په چوکاټ کې د یوې رقابتي سیالۍ له لارې سکالرشیپ ) بورس ( ترلاسه او د لوړو زده کړو په موخه تایلېنډ هیواد ته ولاړ .نوموړی د تایلېنډ په بنکاک ښار د KMUTT په معتبر نړیوال پوهنتون کې د کمپیوټرساینس په برخه کې د ماسترۍ سند ترلاسه کړ .د ماسټرۍ د دورې په بشپړېدو سره هېواد ته راستون او د شیخ زاید پوهنتون د کمپیوټرساینس په پوهنځي کې یې د استادۍ مقدسه دنده پیل کړه .

استاد څواکمن په ۱۴۰۱ هجري لمریز کال کې د پوهیالي علمي رتبې درې کلنه دوره په بریالیتوب سره پای ته ورسوله او په Usability Evaluation of Voice Assistants by Using) Specialized Voice Usability Scale (تر عنوان لاندې د ماسترۍ دورې تیزیس یې د افغانستان د لوړو زده کړو وزارت لخوا د اصلي اثار په توګه ومنل شو او د پوهیالي علمي رتبې څخه یې پوهنیار علمي رتبې ته ارتقا وکړه، فعلاً د پوهنملۍ علمي رتبې او.Ph.D ته کاندید دی .

علمي فعالیتونه :

استاد په پښتو، دري، اردو او انګلیسي ژبو رواني خبرې کوي او همدارنګه نومړي یو شمېر څېړنیزې او مسلکي لیکنې کړي او خپرې شوې دي .ترټولو مهمه دا چې په معتبر او منل شوو نړیوال علمي کنفرانسونو او ژورنالونو کې یې مقالې منل شوي او خپارۍ شوې دي.

همدا شان په یو شمېر نړیوالو علمي او څېړنیزو کنفرانسونو کې یې هم ګډون کړی دی او خپلې منل شوي علمي مقالې یې پکې ارایه کړې دي .

Usability Evaluation of Voice Assistants by Developing a Specialized Voice Usability Scale (VUS) (Thesis)

د تیزس اثار په انګلیسي ژبه

Usability Evaluation of Artificial Intelligence-Based Voice Assistants: The Case of Amazon Alexa

څېړنه ده چې دSpringer په نوم په یوه معتبر نړیوال علمي ژورنال کې خپاره شوې ده.

Usability of Voice-based Intelligent Personal Assistantsعلمي څېړنه ده چې د IEEE په نړیوال کنفرانس کې خپاره کړې او ارایه کړې ده.

Voice Usability Scale: Measuring the User Experience with Voice Assistantsپه نوم یوه بله علمي څېړنیزه مقاله ده چې د IEEE په نړیوال سمپوزیم کې یې خپاره کړې او ارایه کړې ده.

په افغانستان کې انلاین تجارت ته هڅونکي عوامل څېړنه د شیخ زاید پوهنتون په علمي او ملي سمپوزیم کې چاپ شوې ده او ارایه شوې ده .

په زده کړه کې ChatGPT ته هڅونکي عوامل څېړنه د شیخ زاید پوهنتون په علمي مجله کې چاپ شوې ده .

د شکر ناروغۍ لپاره د ماشین زده کړې الګوریتمونو په کارولو سره د وړاندوینې ماډل پلي کول څېړنه د شیخ زاید پوهنتون په علمي سمپوزیم کې چاپ شوې ده .

پوهنیار دلاورشاه ځواکمن د ګڼ شمېر ښېګڼو ترڅنګ ټولنیز، نرم خویه، صادق، نوښتګر او مثبت فکره ځوان دی.

**۸- استاد سلطان محمد**

قدرمن استاد سلطان محمد د خیال منان زوی د تریزیو زیړیغونډۍ کلي کې زیږیدلی دی .
خپلې ابتدائیه او منځنۍ زده کړې یې د تریزیو او علیشیرو په مرکزي عالي لیسه ویلي دي او د لیسې دوره یې د کابل ولایت ابن سینا عالي لیسه کې سرته ورسولې.

په ۱۳۵۵ ه ش کې د کابل پولیتخنیک پوهنتون ته بریالی شو، دوه کاله روسته د نورو زده کړو په موخه شوروي ته ولاړ، هلته یې د ریاضي پوهنځی ولوست.

له فراغته روسته څه موده د کابل پولیتخنیک پوهنتون کې استاد مقرر شو او وروسته اروپا ته وکوچید.

اوس مهال په هالنډ کې د پوهنتون استاد دی.

**۹- انجینر حمیدشاه**

ښاغلی دیپلوم انجینر حمیدشاه د اکبرخان زوی د تریزیوعلیشیرو ولسوالۍ د توري اوبه جلاخېلې کلي کې زیږیدلی دی.

خپلې منځنۍ او لیسه دوره زده کړې یې د کابل ابن سینا عالي لیسه کې ترسره کړې دي او په کال ۱۳۵۸ کې یې لوړې زده کړې د کابل پولیتخنیک پوهنتون نفت ګاز پوهنځي کې سرته ورسولې.

له فراغته روسته یې په وزارت داخله کې په بیلا بیلو بستونو د صاحب منصب په رتبه دندې ترسره کړلې.

په وروستیو وختونو مې د مخکیني ولسمشر۔ حامد کرزي او بیا د ډاکتر غني په دوره کې د خوست ولایت د اقتصاد رئیس پاتې شوی دی.

**۱۰- مدیر امیربادشاه هاشمي**

آمر صاحب پهٔ ۱۳۴۸ه ش کال کې د تریزیو او علیشیرو ولسوالۍ اړوند د تریزیو قوْم کړکي کلي پهٔ یوْه دینداره او روحاني کورنۍ کې زیږیدلی دی .پهٔ ۱۳۶۰ ه ش کال کې د شوروي یرغل لهٔ وْجې ګاونډې هېواد پاکستان تهٔ مهاجر شو خپلې ثانوي زده کړې یې پهٔ ۱۳۷۱ ه ش کال د حزب اسلامي شهید حبیب الرحمن پهٔ عالي لېسهٔ کې بشپړې کړي.

پهٔ ۱۳۷۲/۲/۱ ش کال د تریزیو او علیشیرو پهٔ مرکزي لیسهٔ کې د ښوونکی پهٔ صفت دنده واخیسته، اداري کړنو د همکاری تر څنګ یې د لیسې د نظم دسپلین مسؤل هم وْ، چې خپله پاکه اراده یې د خلکو د خوابښۍ باغث شوْه لس کاله د ښوونکې په توګه پاتې شو.

پهٔ ۱۳۸۲ کال کې د یادې ولسوالۍ د قومي مشرانو او ځوانانو پهٔ غوښتنه د تریزیو او علیشیرو عالي مرکزي لیسې د مدیر پهٔ صفت د پوهنې ریاست مقام ته پشنهاد او د پوهنې ریاست پهٔ تائید د پوهنې وزارت پهٔ منظورۍ د یادې لیسې د آمر پهٔ صفت مقرر شو.

په ۱۳۸۷/۱/۱۷ه ش کال یې د تریزیو ولسوالۍ د پوهنې آمر په صفت دنده واخېسته.د دندې تر څنګ یې د خوست عبدالله خان تنې عالي دارالمعلمین څخهٔ پهٔ ۱۳۸۷ ه ش کال کې د کیمیا او بیولوژی څانګې څخهٔ فارغ شو .دخدمت په جریان کې یې خپلې زده کړې هم پر مخ وړلې، په پای کې د خوست ولایت دطلوع افتاب خصوصي پوهنتون د اداره او ډیپلوماسۍ څخه ۱۳۹۵ کال فارغ شو.

د ښوونځیو لپاره یې د پناه ځایونو د پیدا کیدو غوره مثالونهٔ دا دي :

د تریزیو او علیشیرو مرکزي لیسې لپاره نهه اطاقهٔ تعمیر او نهه نیم سؤه متره چهاردیوالي جوړؤل، پهٔ سلګونو ونو کینؤل، د ښکلا او لوبو ځایونو جوړؤل.

د جونو غونډۍ لیسې لپاره ځای پیدا کؤل، ودانې پرې ابادول.

د هارونخیلو لیسې لپاره د ځمکې پیدا کؤل

پهٔ ۱۳۹۷/۱۱/٦ نیټهٔ د باک ولسوالۍ د پوهنې آمریت تهٔ د پوهنې آمر پهٔ صفت تبدیل او خپلهٔ وظیفه یې هلته پیل کړه.

په باک ولسوالۍ کې ترسره کړي خدامات

د شمل خېلو متوسطه ښوونځي ته پنځه جریبه ځکمې پیدا کؤل او ودانې پرې جوړول.

د جیلاپور ابتدایې ښوونځي ته د یؤ جریب ځمکې پیدا کؤل او ودانې یې ابادول.

د سپیرکي متوسطه ښوونځي ته د ودانۍ جوړول.

د شرې متوسطه ښوونځي ته ودانې جوړول.

د کوټولۍ متوسطه ښوونځي ته ودانې جوړول.

د کوټکیو لیسې ته د څلورو ګوټو تعمیر جوړول.

د مرکزي لیسې دپاره دوه اطاقه تعمیر جوړؤل اؤ هم د پاتې تعمیر د اطاقونو ترمیم.

آمر صیب اوس مهال د باک ولسوالۍ د پوهنې آمر په حیث پر دنده دی .

## قومي، مذهبي، روحاني مشران

### ۱۱-  حاجي محمد آمین ولسوال

محمد آمین د مرحوم حاجي گل شمادان زوی دی چې د تریزیو علیشیرو ولسوالۍ اړوند تریزیو مهمندي کلي اوسیدونکی دی.

محمد آمین یو سخي، زړور، متدین او باشهامته قومي مشر دی .د جرگو او مرکو سړی دی . خورا خراباتي طبیعت لري.

اوس مهال د اسلامي امارت له لوري د خوست ولایت د موسی خېلو او قلندر ولسوالۍ لپاره د ولسوال په توگه خدمت ترسره کوي.

### ۱۲-  محترم ولسوال مولوي صیب گل داد

محترم مولوي صیب گل داد د تریزیو علیشیرو ولسوالۍ اړوند د قدامو کلي یوې روحاني او جهادي کورنۍ غړی دی .خپلې دیني زده کړې یې د لویه دوره په کچه د هجرت پر مهال د پاکستان دیني مدارسو کې سرته ورسولې .ښاغلی گل داد د دیني او مذهبي مسلک ملگرو تر منځ د متدین، خواریکښ او قربانۍ وړ انسان دی.

محترم گل داد اوس مهال د اسلامي امارت له لوري د خوست ولایت د ځاځي میدان ولسوالۍ لپاره د ولسوال په توگه دنده ترسره کوي.

## ۱۳- قاري ساقي محمد کوثري

محترم قاري ساقي محمد کوثري د تريزيو عليشيرو ولسوالۍ اړوند د للمې کلي اوسيدونکی دی.

خپلې دينې زده کړې يې پاکستان کې د هجرت په ديار کې د ديوبندي مسلک له علماوو څخه ترلاسه کړې دي.

محترم قاري ساقي محمد چې تريزيو کې په ستر قاري هم مشهور دی، د دغه ولسوالۍ په کچه له لومړنيو قاريانو له جملې څخه دی .په دغه ولسوالۍ کې نږدې ټول قاريان او حافظان، په ګاونډ ولسواليو کې يې هم ډيری قاريان او حافظان شاګردان تير شوي دي.

محترم ستر قاري صيب په تريزيو کې د ديني زده کړو د مدرسو بنسټګر او يوازينی باني بلل کيږي.

اوس مهال يې چې عمر نږدې اتيا کلنۍ ته رسيږي، په خپله سيمه کې تر ټولو ستر خطيب، قومي مشر، ديني مبلغ او روحاني مقام لري.

## ۱۴- الحاج مختارالدين جلالزی قومي مشر

مختارالدين جلالزی د حاجي جلال زوی د تريزيو جلال کلي اوسيدونکی دی .

لومړنۍ زده کړې يې پاکستان کې ترسره کړي دي .منځنۍ او نيمه لوړې زده کړې يې د خوست عبدالله خان تڼي عالي دارالمعلمين پښتو څانګه کې وکړې.

لوړې زده کړې يې له خوست پامير خصوصي پوهنتون څخه د حقوقو پوهنځي کې سرته ورسولې.

له ۱۳۷۰ ه ش کال راهیسيـ د ښوونې او روزنـې په برخه کې اخته دی، د ښوونکي، سرښوونکي، آمر، مدير او د ولسوالۍ په کچه د پوهنې عمومي مدير په حيث يې د وطنوالو ته خدامات کړي دي.

ښاغلي جلالزی يو ژبور، باجرئته، حاضر جوابه او منطقي قومي مشرـ هم دی .د تريزيو او عليشيرو ولسوالۍ په سطحه هره جرگه او مرکه کې يې گډون کړی دی او بې کچې غټې او ورې "بدۍ "يې حل کړي دي.

## ۱۵- *محترم پير سيد فاروق شاه سيدي*

محترم پير سيد فاروق شاه سيدي، دتريزيو او عليشيرو ولسوالۍ د لنډرو پيرانو کلي يو درونـد، باوقاره او روحاني شخصيت دی.

په 1985 کال کې زيږيدلی دی .هغه د مرحوم پير ولي شاه زوی، د مرحوم پير سيدالدين محمد لمسی، او د مرحوم پير فقير محمد کړوسی دی.

سيدي د يوې سپيڅلې، ديني، روحاني او علمي کورنۍ غړی دی، چې نسلونه نسلونه يې د خپلې سيمې د خلکو ديني، اخلاقي او ټولنيزې روزنې لپاره خدمت کړی دی.

د خوست ولايت په ځانگړي توگه د تريزيو ولسوالۍ د سيمې خلک پير فاروق شاه سيدي ته ډېر د درناوي او احترام په سترگه گوري .خلک يې شخصيت ته د ديني عالم، روحاني لارښود، د خير غوښتونکي مشاور او د ستونزو حل کوونکي په سترگه گوري .هر څوک يې مشورې ته ارزښت ورکوي او د ده خبرو ته غوږ نيسي.

## ۱٦- الحاج قمرالدين شيرزی

الحاج قمرالدین شیرزی د الحاج کمال الدین شیرزي زوی د الحاج غلام محی الدین لمسی د تریزیو او علیشیرو ولسوالۍ سلیم بابا کلي اوسیدونکی دی.

په ۲۹/۱۲/۱۳٦٤ نیټه یې په یوه دینداره پیژندل شوي کورنۍ کې زیږیدلی دی.

شیرزي خپلې لومړنۍ زده کړې د تریزیو علیشیرو مرکزي عالي لیسه کې وویلې او په ۱۳۸٤ کال کابل کې یې د ازاد خان عالي لیسې څخه د ۱۲ټولګي سند واخېست .په ۱۳۸۹ کال کې د سیدجمال الدین دارالمعلمین د ریاضي څانګې څخه فارغ شو .

په ۱۳۹۵ کال کې یې د لومړی ځل لپاره د خوست متحدو ځوانانو ټولني بنست ځینو نورو دوستانو په همکارۍ کیښودل شو، یو کال د همدې ټولني مرستیال او عالي کمیسون غړی ؤ.

یادې ټولني د خوستیو ځوانان لپاره ستر خدمتونه وکړل چې له جملې یې یو لوی کار ٤ جریبه ځمکه د بوت خاک به سیمه کې د ټولو خوست میشتو په نقدي مرسته واخیستل شوه.

په ۱۳۹۷ د جوزا په اتمه د تریزیو او علیشیرو مشرانو او ځوانانو په غوڅ اکثریت د تریزیو او علیشیرو سرتاسري شورا مشر وټاکل شو او دا شورا اوس هم په کابل کې فعالیت کوي.

په ۱۳۹٦ کال کابل کې یې د استقامت خصوصي پوهنتون څخه د لیسانس دیپلوم تر لاسه کړ .په ۱۳۹۷ کال کې د کابل پوهنتون څخه د ستاژ حقوقي یا څارنوالي ستاژ څخه د مافوق لیسانس په درجه فارغ شوی دی.

ښاغلی شیرزی د لوړو انساني صفاتو خاوند، د وطني مینې سمبول او د ولسونو د هوساینې ارمانجن کادر دی. دا مهال له هیواده بهر په بریتانیا کې د مهاجرت ژوند تیروي.

### ۱۷- **هځاند ځوان تاج علي صابر منګل**

ښاغلی تاج علي صابر منګل د حاجي شاه ولي زوی د تریزیو علیشیرو ولسوالۍ د سواکیو کلي کې زیږیدلی دی.

لومړنۍ او لیسه دوره یې د تریزیو علیشیرو مرکزي عالي لیسه کې ترسره کړي دي او روسته د لوړو زده کړو په موخه د پکتیا پوهنتون ادبیاتو پوهنځي ته بریالی شو.

تاج علي صابر چې زما د لیسې دورې ټولګیوال او تر ننه ملګری پاتې شوی دی .د یو نجیب او اصیل افغان ټولې ځانګړنې پکې راټولې دي .بې کچې درک کوونکی، د لوړ اخلاقي چلند خاوند او د متقابل درناوي ډک انسان دی.

ښاغلی تاج علي صابر دا مهال له افغان پرمختیایي مؤسسې ADA سره د ښوونه او روزنه څانګه کې د خپلو ولسونو خدمت کوي.

### **ورزشي برخه**

د تریزیو علیشیرو ولسوالۍ کې دا مهال د کریکټ، والیبال، فوټبال او ازادې مبارزې لوبې ترسره کیږي.

### **۱۸- ضیاءالحق سیدي**

د تریزیو علیشیرو ولسوالۍ اړوند د کدامو سیدانو روحاني کورنۍ څخه دی.

د کریکټ روزونکی دی .د ده په وینا چې لومړیو کې زه خپله لوبغاړی وم، خو روسته مې مینه د روزنې برخې ته زیاته شوه او همدا ؤ چې د کوچینګ یا روزنې برخې سره ورسره شوم.

ښاغلی سیدي دا مهال د پکتیا اړوند شهرنو، خوست، پکتیکا او کابل کې د کریکټ پوهنې اکاډمۍ لري .سیدي په ۲۰۱۸ کې د روزنې برخې ابتدائیه کورس یا الیمینټري وکړ، بیا یې په ۲۰۲۰ م کې لومړی لېول کورس ووایه، په ۲۰۲٤ کې یې د دویم لېول کورس هم ووایه او دا ټول یې د افغانستان کرېکټ بورډ په همکارۍ سرته رسولي دي.

ضیا الحق سیدي دا مهال د ) محمد خان کرکټ سنټر ( اکاډمیو کې د مشر روزونکې په توګه کار کوي .ستر ارمان یې دا دی چې یو ورځ د ده په لاس روزل شوي اتلان نړیوال جام ګران وطن ته راوړي.

**۱۹- د افغانستان د کریکټ ۱۹ کلنو ملي لوبډلې کیپتان محبوب الله تسکین**

محبوب خان چې د کریکټ د لوبې په نړۍ کې محبوب الله تسکین یادېږي، د تریزیو علیشیرو ولسوالۍ اړوند توري اوبه جلاخېله کلي کې په 2007, Jan, 01 نېټه زیږیدلی دی.

محبوب تسکین چې د شرټ یا بانېل" بنېن"شمیره یې 53 ده، د ښاغلي عاشور خان زوی دی او دا مهال د کابل هوت خېلو عالي لیسې د ۱۲ ټولګي زده کوونکی دی.

د لوبیز ژوند زده کړې یې:

لومړی ځل ۲۰۱۵ کابل کریکټ اکاډمي ) ملي کرکټ اکاډمي ( ACB - له محترم کوچ حاجي سیدالرحمن او ښاغلي پیټر سن سره

افغان کرکټ اکاډمي ( کابل الوخیل)

زرملوال کرکټ اکاډمي ( کابل ارزان قیمت )

سلیم کاروان کرکټ اکاډمي ( کابل ارزان قیمت )

خوست کرکټ اکاډمي ( خوست محمد خان ځدران ) حاجی محمد خان ځدران

راشید خان کرکټ اکاډمي ( کابل ارزان قیمت )

ایوبي کرکټ اکاډمي ( کابل ارزان قیمت )

محبوب خان تر دا مهاله لاندې ډول د کریکټ لېولونه یا درجې ترسره کړي دي.

انټر کلب، ګرېډ ټو، ګرېډ ون، ترې ډې، لېست اې، رمضان جامونه، قوش تیپه جام، شپږیزه سیالۍ، د پاکستان، عربي امارات او افغانستان درې اړخیزه سیریز ، اسیا کپ، نولس کلنو نړیوال جام ته چې۵ لوبډلې وې یوازې افغانستان ورځخه کولیفای شو او ۲۰۲٦ کې یې نړیوال جام ته لاره پیدا کړه.

تر نن پورې د نولس کلنو ملي لوبډلې کپتان دی.

محبوب خان تر اوسه دوبۍ او نیپال ته لوبیز سفرونه کړي دي او که همداسې لګیا اوسي، هغه ورځ لیري نه ده چې د ټولې نړۍ ننداره به وکړي.

دا مهال د افغانستان د کریکټ ۱۹ کلنو ملي لوبډلې کیپتان او توپ وهونکی دی.

**د فوټبال برخه یې**

د تریزیو او علیشیرو ولسوالي د فوټبال لوبې لوبغاړي او مینه وال هم لري .د دغه ولسوالۍ د هارونخیلو تاتري کلي د گل احمد خان په نوم د فوټبال لوبډله، د توري اوبه حکیم په کیپتانۍ د فوټبال تیم، د علیشیرو فرید په کیپتانۍ لوبډلې یې مشهورې دي.

**۲۰- مشهور لوبغاړی یې ولایت خان د رسول محمد زوی** چې د دغه ولسوالۍ هارونخیلو تاتري اوسیدونکی دی.

ولایت خان چې دا مهال د شیخ زاید پوهنتون د اقتصاد پوهنځي درېیم ټولگي زده کوونکی دی، په خوست ولایت مرکز سربیره، پکتیا، غزني، کابل او هلمند کې لوبې ترسره کړي دي . ولایت خان د فوټبال ۱۷ کلنو ملي لوبډله کې هم لوبیدلی دی او د خوست په کچه یو ښه فوټبالر دی .

**د والیبال برخه**

د تریزیو او علیشیرو ولسوالي د والیبال بیخي زیات مینوال او لوبغاړي لري .د دغه ولسوالۍ نږدې هر کلي کې د والیبال یوه لوبډله او یو د لوبې میدان شته دی .

مشهور ټیمونه یې د زیړې غونډۍ ادریس، تریزیو ځدراڼو کلي ښایسته په مشرۍ، د ځدراڼو کلي میلې محب الله په نوم، د علیشیرو سلیم ابا میاخېل زاهد په نوم لوبډلې یې فعالې دي.

مشهور لوبغاړي ادریس، سیلو خان، محب الله، میاخېل زاهد، ښایسته خان، ډاډک دي.

## تریزیو علیشیرو ولسوالۍ کې د خیربښیګڼې ټولنیز بنسټونه

### د تریزیو خیریه بنسټ

د دغه بنسټ د ځینو غړو په وینا چې د بنسټ عمومي موخه په خپله سیمه کې د اړمنو لاسنیوی او مرسته ده .دوی زیاتوي چې بنسټ په ځانګړي ډول له اړمنو سره د دوی ورځتیا ته په کتو کاري فرصت رامنځ ته کوي .هغوی چې د کورنیو سرلارې یې وفات یا نه وي، نو د پاتې ورو لپاره یې د لومړنیو مرستو په لړ کې خوراکي او غیر خوراکي توکي برابریږي او په اوږدمهال کې د دوی لپاره د عاید یوه سرچینه هغه که د ګاډیوانۍ غوندې وي، یا د لارې پر سر وړه سوداګري وي، اماده کوي.

د بنسټ بله موخه په سیمه کې د ورانو، یا نویو پلچکونو جوړیدل دي چې د اړتیا په صورت کې امکاناتو ته په کتو یې کارونه ژر ترسره کیږي.

دغه بنسټ په سیمه کې د ستونزو، بدیو او شخړو په هواري کې هم برخه اخلي.

یاده دې وي چې له دغه بنسټ سره مالي مرسته د همدغه سیمې هغه مسافر ورونه چې په عربي هیوادونو کې په خوارۍ او مزدورۍ بوخت دي، ترسره کیږي.

### د تریزیو او علیشیرو ځوانانو ګروپ

د تریزیو او علیشیرو ولسوالي په ذکر شوي نوم یو بل خیریه بنسټ هم لري چې ټول غړي یې د همدغه ولسوالۍ اوسیدونکي دي او وخت ناوخت په بیلا بیلو مذهبي او کلتوري ورځو د خپلې سیمې د وطنوالو په خدمت کې اخته دي او د خوراکي او غیر خوراکي توکو مرستې په اړمنو خلکو باندې ویشي.

دغه بنسټ همدا سږني کال ۱۴۰۴ روژې میاشت کې تازه رامنځ ته شوی دی .د دغه بنسټ مسؤلین وایي چې غواړي د بنسټ خدمتونه د ټولې ولسوالۍ په کچه وغځوي او د هر اړمن کس مرستې ته د خپل توان په اندازه ځانونه ورسوي .

# پای

استاد حضرت الله ستومان

2025/05/10

۱۴۰۴ /ثور /۲۰